# د هغه پخواني ناروغانو توقيف چه په روغتون کي دي

(د 1983 د دماغي روغتيا لايحه (2) 5 برخه)

| | |
|---|---|
| 1. د ناروغ نوم | |
| 2. د هغه کس نوم چه ستاسو علاج صلاحيت لري | |

## ولي زه نشم کولاي چه دغه روغتون ترک وکړم؟

تاسو د 1983 د دماغي روغتيا د لايحه تر(2) 5 برخه لاندي په دغه روغتون کي ساتل کيږي ددي دپاره هغه څوک چه ستا د علاج صلاحيت لري، او يا د هغه مرستيال، فکر کوي چه تاسو يوه دماغي ناروغي لري او تاسوصرورت لري چه په روغتون کي پاته شي.

َ مرستيال َ هغه کس دی چه وکولاي شي په هغه وخت کی يوه تصميم ونيسي کله چه ستاسو صلاحيتدار شخص کوم ځاي ته تللي وي.

## څومره موده به زه دلته يم؟

تاسو دلته د 72 ساعتو د پاره ساتل کيږي ترڅو د دوو ډاکترانو تر کتني لاندي ونيول شي او دوي فيصله وکړي چه ايا تاسو دي ته ضرورت لري چه تر اوږده مودي پوري روغتون کي پاته شي .

همدارا‌ز کيداي شي چه تاسو د يوه قبول شوي د دماغي روغتيا متخصص له خوا وکتل شي.
يو قبول شوي د دماغي روغتيا متخصص هغه کس دي چه هغه په ډير ماهرانه توګه زده کړه ليدلي وي چه هغه ته په دي فيصله کي مرسته وکړي چه ايا اضافه له دي څخه ناروغ ته ضرورت دي چه په روغتون کي پاته شي.

تاسو د دغي مودي په جريان کي بايد روغتون ترک نه کړي بغير د دي نه چه ستاسو د علاج با صلاحيت شخص او يا د هغه مرستيال ، تاسو ته ووايي چه تاسو کولاي شي. که چيري تاسو کوشش وکړي چه ولاړشي کارکونکي تاسو را ګرځولي شي، او که چيري تاسو روغتون ترک کړي ، تاسو بيرته راوړل کيږي.

که چيري تاسو د پخوا په روغتون کي د دماغي روغتيا د لايحي تر (4)5 برخي لاندي د يوه نرس په واسطه په روغتون کي ساتل شوي وي، پس له دي نه هغه مودي چه تاسو په روغتون کي مخ کي ساتل شوي وي د 72 ساعتو يوه برخه حساب کيږي.

ستاسو په قضيه کي 72 ساعت داسي ختميږي:

| نیټه: | وخت: |
|---|---|
| | |

## بیا به څه کیږي؟

کله چه ډاکټرانو تاسو وکتلي ، امکان لري چه دوي فيصله وکړي چه تاسو ضرورت لري چه د یوي اوږدي مودي دپاره په روغتون کي پاته شي. يو ډاکټر او يو قبول شوي د دماغي روغتيا متخصص کيداي شي چه تاسو ته ووايي چه ولي او د څو مده پوري دغه احتمال وجود لري. تاسو ته بله نشريه ورکول کيږي چه تاسو ته ووايي چه وروسته به څه کيږي . که چيري دغه فيصله کيږي چه تاسوضرورت نلري چه پاته شي، دوي ( او يا د کارکونکو بل غړي ) ستا سره خبري کوي چه څرنګه نور مرسته تاسو سره وشي .

که چيري تاسو ته چا نه دس ويلي چه په روغتون کي پاته شي البته د 72 ساعتونو تر ختميدو پوري ، تاسو ازاد يي چه روغتون ترک کړي . لاکن تاسو کولاي شي چه فيصله وکړي چه تاسو غواړي چه په روغتون کي د يوه دواطلب ناروغ غوندي پاته شي. که چيري تاسووغواړي چه د 72 ساعتو په پاي کي روغتون ترک کړي ، لطفاً د مخه تاسو د کارکونکو د يوه غړي سره خبري وکړي .

## ايا زه درخواست کولاي شم؟

يه. حتي که چيري تاسو ددي سره موافقه هم و نلري چه تاسو ضرورت لري چه اوس روغتون کي پاته شي، تاسونشي کولاي د هغي فيصلي په مقابل کي چه تاسو تر 5(2) برخه لاندي په روغتون کي ساتل کيږي درخواست وکړي.

## څه علاج ماته ورکول کيږي؟

د روغتون کارکونکي د هغه علاج په باره کي چه دوي فکر کوي چه ته ضرورت درته لري تاسو ته وايي . هغه علاج چه تاسو نه غواړي تاسو حق لري چه هغه رد کړي . يواځي په خاصو شرايطو ، هغه چه تاسو ته به تشريح شي ، هغه علاج چه تاسو د هغه سره موافقه هم نلري تاسو ته درکول کيږي .

## اجازه ورکړي چه ستاسي نژدي قريبان وپوهيږي

د دغه نشريي يوه کاپي هغه کس ته ورکول کيږي چه د دماغي روغتيا مقررات ووايي چه دغه ستاسو نژدي قريب دي.

د دماغي روغتيا په لايحه کي يو لست دي چه کوم کسان ستاسو قريبان دي. پر طبعي ډول، هغه شخص چي په لست کي لومړيتوب لري هغه ستاسو نژدي قريب ګڼل کيږي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه ورکړي چه دغه تشريح کړي چه ستاسو نژدي قريبان ستاسو د مواظبت او اعلاج په ارتباط څه حقوق لري.

| |
|---|
| |

که چيري تاسو نه غواړي چه دغه سړي يوه کاپي نشريه تر لاسه وکړي، لطفاً خپلي نرس او يا د کارکونکي ډلي يوه غړي ته ووايي.

## ستاسو د نژدي قريبان بدلول

که چيري تاسو فکر  کوي چه دغه ستاسو د نژدي قريبانو په حيث يو مناسب سړي نه دي، تاسو کولاي شي چه د مربوطه محل په محکمه کي د يو بل کس دپاره درخواست وکړي چه هغه وکولاي شي ستاسو د نژدي قريب په عوض چلند وکړي. د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسو ته يوه نشريه ورکړي چه په هغه کي دغه تشريح شوي دي.

## ستاسو ليکونه

هغه ټول ليکونه چه تاسو ته راغلي دي د هغه وخت نه چه تاسو په روغتون کي ئي تاسو ته ورکول کيږي.  تاسو کولاي شي چه هر چا دپاره خط وليږي پرته له هغه کسانو څخه چه دوي ويلي دي چه دوي نه غواړي ستاسو له خوا ليکونه واخلي. ليکونه دغه خلک ته د روغتون د کارکنانو له خوا ځنډول کيږي.

## د تمرين کود

دلته د تمرين يوه کود دي چه د روغتون کارکونکو ته د دماغي روغتيا د لايحي  او خلک ته د دماغي ناروغي درمان په باره کي مشوره ورکوي. کارکونکي مجبور دي چه کود ته تر کتني لاندي ونيسي چه کود څه ويلي دي کله چه دوي ستاسو د مواظبت په هکله تصميم نيسي.  تاسو کولاي شي  غوښتنه وکړي چه د کود يوه کاپي د کتلو د پاره درکړه شي، که چيري تاسو وغواړي.

## څنګه زه شکايت کولاي شم ؟

که چيري تاسو وغواړي چه د ځني شيانو د سرته رسولو  په باره کي چي په روغتون کي ستاسو د مواظبت او علاج په تړاو دي شکايت وکړي ، لطفاً د کارکونکو د يوه غړي سره خبري وکړي.  کيداي شي چه دوي قادر وي چه موضوع حل  کړي . همدا راز دوي کولاي شي چه تاسو ته د روغتون د شکاياتو د طريقي په باره کي معلومات ورکړي، چه تاسو وکولاي شي  د هغه نه استفادي  خپل شکايات د هغي  لاري حل کړي چه د  داخلي حل په نامه ياديږي. همدا رنګه دوي کولاي شي چه تاسوته د ځني خلکو په باره کي چه  هغوي کولاي شي  ستاسو شکايت ته رسيدګي وکي خبري وکړي.

که چيري تاسو احساس کړه  چه د روغتون د شکايات روش نه شي کولاي چه تاسو سره مرسته وکړي ، تاسو کولاي شي چه يوه مستقل کمسيون ته کي شکايت وکړي. کمسيون نظارت کوي چه د دماغي روغتيا د لايحي څخه څرنګه استفاده کيږي ، او اطمنان حاصل کړي چه دغي نه په صحيح توګه استفاده شوي ده او دغو ناروغانو ته د هغه وخت څخه چه دوي په روغتون کي دي  په صحيح توګه توجه شوي دي.  د روغتون کارکونکي کولاي شي چه تاسوته يوه تشريح شوي نشريه ورکړي چه څرنګه کمسيون سره ارتباط پيدا کړي.

## زيادتر مرستي او معلومات

که چيري دلته ځني شيان ستاسو د مواظبت او علاج په باره کي دي  چه تاسو په هغه  نه ياست پوه شوي، د کارکونکو يو غړي کوشش کوي چه تاسو سره مرسته وکړي.  لطفاً د کارکونکو د يوه غړي څخه غوښتنه وکړي چه ستاسو د پاره بي تشريح  کړي که چيري ځني شيان په دغه نشريه کي ستاسو دپاره واضح نه وي او يا تاسو په هغه پوه نشي او يا که چيري تاسو بله پوښتنه لري چه دغه نشريه ځواب نه ورکوي .

لطفاً پوښتنه وکړي که چيري تاسو علاقمندي لري چه د دغي نشريي يوه بل کاپي د يو بل چا دپاره ورکړي.